# د ”ویښ زلمي“ ملي مترقي نهضت

# ویاړلی غړی



## عبدالهادي هادي

۱۲۹۸ - ۱۳۷۴ هـ ش.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

دا ليکنه چه د ارواښاد عبدالهادي خان هادي (ويښ زلمي) په اړه ده ښاغلي انجنير وفي الله هادي موږ ته له کاناډا څخه رالیږلې ده. د هادي صاحب څخه ډېره مننه او کورودانی ورته وایو. (اداره(

دا کټ مټ هغه ليکي دي چي څو موده مخ کښي مرحوم الحاج زرملوال صاحب زما څخه دغه ډول غوښتنه کړې وه.
زما د پلار مرحوم عبدالهادي هادي ليکني، يادانښتونه، او اسناد د هيواد د راورستيو بحرانو او شخړو په نتيجه کي
په افغانستان کي پاته سول او غالباً ضايع او له منځه به تللي وي. هرهغه چي زما په حافظه کي پاته وه
هغه هم د هجرت او جلاوطنی په نسبت و هېري ته وسپارل سوه. ولي هرهغه چي نه زه او نه يې د افغانستان
معاصر تاريخ هېرولی سي د هغو لنډيز دادئ:
عبدالهادي هادي چي پخوا تر بند يې کورنی نوم "توخی" و د مرحوم حاجي عبدالروف خان زوی او د مرحوم حاجي يار محمد لمسی او په ځته توخی په ۱۲۹۸ لمريز کال د کندهار ښار خرقې مبارکې ته ورځرمه په اوله ناحيه کي زيږېدلی دئ. په هيواد کښي د متداولو علومو زده کړه يې د کندهار له مشهورو علماوو څخه وکړه او په تفاسيرو او عقايدو کي ډېر وارد و. نوموړی ډېر متجسس او د ښه بصيرت او ځيرکی خاوند و او د کتاب د مطالعې سره يې ډېره علاقه وه.
مرحوم هادي صاحب د افغانستان د تاريخ يوه برخه په دوه جلده کي تاليف کړه او په راورستيو کلونو کي يې د افغانستان د خپلواکی د محصل غازی شاه امان الله خان د سلطنت له پيله بيا د کمونستي رژيم د زوال او سقوط تروخته پوري د هيواد د سياسي واقعاتو په تحليل او تشريح لاس پوري کړئ وو او د ذکرسوي محدود زمان دريمه برخه يې په بشپړه توګه وليکله چي دهغو قلمي نسخې د مرحوم هادي صاحب په کتابو کي همدا اوس د مرحوم پوهاند رشادصاحب په کتابتون کي په کندهار کي خوندي پاته دي. مرګي بيره وکړه، نو ځکه د هيواد د سياسي واقعاتو د تحليل څلورمه برخه ناتمامه پاته سوه.
مرحوم عبدالهادي هادي اګاه وو چي د يوې اجتماعي پديدې تر عنوان لاندي د ډلو، سازمانونو او سياسي ګوندونو تشکل يو جهان شموله مسئله او د بشري ټولني د سياسي ژوند يو ضروري او نه بېلېدونکي برخه ده. او هم په دې پوه وو چي د نړی په څه پوه او منورو انسانانو د خپل هيواد له شرايطو سره سم تل تر تله د خود کامه او مطلقه نظامو، اداري او ټولنيز فساد پر ضد پاڅېدلي او د ملي حاکميت، اجتماعي عدالت او د خلګو د سياسي او بنيادي حقوقو د تامينولو په غرض يې په مبارزه لاس پوري کړيدئ.
همدا وجه وه چي د سياست په ساحه کي د ډېري ژوري مطالعې خاوند او خپل تاريخي رسالت ته متوجه و، نو ځکه يې خپله سراچه د کندهار د مبارزو منورينو دپاره لکه مرحوم محمدرسول خان پښتون، مرحوم قاضي بهرام خان، مرحوم فيض محمدخان انګار، مرحوم محمد انورخان اڅکزی، مرحوم محمدابراهيم خواخوږی، مرحوم غلام جيلاني خان، مرحوم قاضي عبدالصمد خان، مرحوم عبدالخالق واسعي او نورو ملګرو چي نومونه يې زما نه دي پياد د سياسي بحثونو او نظرياتو د څرګندولو مرکز او ټاټوبی ټاکلی و او د يوه سياسي حزب چي نوم يې ويښ زلميان و ترنامه لاندي فعاليت کاوه.
مرحوم هادي صاحب درې واره حج ته تللئ او په بيت الله شريف مشرف سويدئ. مرحوم هادي نه يوازي سياسي او اجتماعي شخصيت او سياسي مبارز و بلکه د قومي مشرتابه قيادت يې هم په غاړه و او ډېري قومي او قبيلوي شخړي او کړکېچونه د مرحوم هادي تر مشرتابه لاندي حل او فصل کېدلې. همدغه علت و چي مرحوم هادي سره له سياسي سوابقو او سياسي مبارزې د خپلو ملګرو په منځ کي په خان مشهور وو.
افغان اولس چي د مطلقه او خود کامه نظام4 له استبداد او اختناق څخه ډېر ستومانه سوئ و د ويښ زلميانو مصلحت آميزه سالم تبليغات او سالمي لارښووني يې په ډېره علاقمندي او ورين تندي اورېدلې او دهغو هرکلی يې کاوه. هماغه وو چي د هيواد په ګټ شمېر ولاياتو کښي په تېره بيا په کندهار او شاوخوا محالاتو کښي ګڼ شمېر د شرايطو واجد خلګ د ويښ زلميانو ګوند ته جلب او جذب سول. ليکن د دربار لپاره د ويښ زلميانو دا ډول فعاليتونه د زغم وړ نه وه او د ۱۳۳۱ لمريز کال د ورې د مياشتي په لسمه نېټه يې د کندهار د ويښ زلميانو مخکښان لکه مرحوم عبدالهادي هادي، مرحوم قاضي بهرام خان، مرحوم محمد انور خان اڅکزی، مرحوم قاضي عبدالصمد خان، مرحوم محمد يوسف حضرت، او مرحوم حاجي خدايدوست له کندهاره و کابل ته تحت الحفظ واستول او بنديان کړل؛ او مرحوم محمدرسول خان پښتون يې چي په بغلان کي د انحصاراتو لوی مدير و د بغلان په محبس کي زنداني کړ. مرحوم فيض محمد انګار، مرحوم حاجی محمد حسين، او مرحوم محمد علم بڅرکی د کندهار د فرقې په محبس کي بنديان سول.
مرحوم حاجي خدايدوست وروسته له دوو کالو زندان څخه په محبس کي وفات سو او پورته ذکر سوي نور شخصيتونه د څلور نيمو او پنځو کالو په حدود کي بنديان سول. ليکن مرحوم عبدالهادي هادي، مرحوم محمدرسول خان پښتون او مرحوم قاضي بهرام خان يوولس کاله په زندان کي بنديان وساتل سوه. کله چي سردار محمد داود په ۱۳۴۲ لمريز کال کي د خپلي استعفا ترمخه سياسي بنديان آزاد کړل، نو د ويښ زلميانو پاته درې کسان هم آزاد سول.
زما پلار مرحوم عبدالهادي هادي په ۱۳۷۴ لمريز کال په کابل کي د زړه د حملې له کبله له نيمګړي نړی څخه سترګي پټي کړې او ځان يې حق ته وسپاره او د صابر انصار په عمومي هديره کي و خاورو ته وسپاره.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

مرحوم عبدالهادي هادي کله کله شعر هم وایه چي دا لاندی شعر یې د مرحوم علامه حبیبي د مړیني په مناسبت ویلئ دئ.

ګوری قصد یې د سفر کړئ حبیبي له دې عالمه
څونه څونه چې زه ژاړم، زما زړه نه ارامیږي
درد مي لا پسې زیاتیږي، د زړه څړیکه نه سوه کمه
استادان که شاګردان وو، بیګانه که اشنایان وو
چې یې واورېده له پیښې، سیه پوش سوه له ماتمه
دوی په لوړ آواز ناري کړې، ده دا څه غمجنه پیښه
پوهنتون ټوله یتیم سو، اکاډیمي سوله برهمه
علامه و د خپل عصر، لوی استاد د زمانې و
عالمان یې افتخار په شاګردی کاندي عالمه
شاهدان یې دي د علم، سل و دوه دیرش کتابونه
اته سوه مقالې کړه، د تحقیقي ورسره ضمه
له لویانو سره لوی و، پر کوچنیو مهربانه
که قریب و که رقیب و، برخوردار ستا له کرمه
څونه عزم و اراده ستا، څونه صبر و حوصله ستا
څونه علم څونه فضل، حبیبي وفـــا شـــیمه
د جنت بلبله ولاړې، جنت الماوي دې ځای سه
څو ژوندی پر دې دنیا یم، زه به دا دعا کومه
د وفات تاریخ دې ګوره، حبیبي "کلي غرقاب" سو
علم و فضل دواړه ډوب سوه، څوک بې باسي له دې یمه



pashtoon.net / pashtun.info September 2017